يعني د کور ښي اړخ، ګڅ اړخ، مخې او شاته 40، 40 کورونه ګاؤنډيان دي- (1)که په فليټ وغيره کښې اوسيږي نو بيا به ښکته او لاندې کورونه هم په ګاؤنډ کښې شامل وي-

## د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک

خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم درې کرته وفرمائيل: په **الله** پاک مې دې قَسم وي---!! هٰغه بنده مؤمِن نۀ دے، په **الله** پاک مې دې قَسم وي---!! هٰغه بنده مؤمِن نۀ دے، په **الله** پاک مې دې قَسم وي---!! هٰغه بنده مؤمِن نۀ دے- عرض وکړے شو: يا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! څوک مؤمِن نۀ دے؟ اوئې فرمائيل: د چا د شَر نه چې د هغۀ ګاؤنډي محفوظ نۀ وي- (2)

يعني څوک چې ګاؤنډي ته تکليف رسوي، د هغۀ حقونه خوري، د هغۀ ايمان کامِل نۀ دے، ناقِص دے- (3)

## د ګاؤنډي درې حقونه

ګاؤنډي که نيک وي او که ګنهګار، دوست وي او که دښمن، په مونږ باندې د هغۀ ډير حقونه دي- په کومو کښې چې به نن مونږه درې زده کوو-

### وړومبے حق: حاجت پوره کول

**وضاحت:** د ګاؤنډي په حقونو کښې دي چې که هغۀ په خپل حاجت کښې مدد وغواړي نو د هغۀ مدد دې وکړے شي، لکه: ❁ عام طور د غم ښادۍ وغيره په موقع باندې د کټ، بسترې يا د خپلو ميلمنو د کښيناستو د پاره بيټک وغيره غواړي، زمونږه ګاؤنډي که چرې زمونږ نه داسې قِسمه مدد وغواړي ❁ په کور کښې د اِستعماليدونکې ضروري

[1]... نعيمی، پارہ:5، سورۂ النساء، تحت الآیت:36، جلد:5، صفحہ:84۔

[2]... بخاری، کتاب الادب، باب اثم من لا یأمن جارہ بوائقہ، صفحہ:1500، حدیث:6016۔

[3]... لمعات التنقیح، کتاب الآداب، باب الشفقۃ والرحمۃ علی الخلق، جلد:8، صفحہ:248، حدیث:4962۔

سامان ګاؤنډي ته ضرورت پيښ شي مثلاً بعضې وخت واوره، يخې اوبه يا د ايمرجنسي شکل کښې ورۀ وغيره اخستو د پاره راځي، داسې قِسمه ضرورت پوره کول ❁ که د هغۀ پيسو ته ضرورت شي نو د وَس مطابق د هغۀ مدد کول وغيره- او که ګاؤنډي ته زمونږه د مدد ضرورت وي، خو هغۀ حيا کوي او مونږ ته نۀ وائي، نو بيا هم زمونږه اخلاقي حق جوړيږي چې د خپل ګاؤنډي اِحساس وکړو او د هغۀ هر قِسمه مدد وکړو-

دويم حق: تپوس پوښتنه کول

وضاحت: د بيمار تپوس (يعني د حال، طبيعت) پوښتنه کول تپوس دے- [(1)] تپوس کول زمونږه د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ښکلې سُنَّت دي- [(2)] ❁ که زمونږه ګاؤنډي بيمار شي نو د هغۀ کور ته پۀ تللو سره دې د هغۀ تپوس وکړے شي ❁ د بيمارۍ پۀ علاج کښې دې د هغۀ ملګرتيا وکړے شي ❁ که هغۀ ته خوک خوراک ورکولو والا نۀ وي نو هغۀ ته دې خوراک ورکړے شي ❁ د هغۀ د شِفا د پاره دې دُعا وکړے شي ❁ د هغۀ د کور پۀ کارونو کښې دې د هغۀ مدد وکړے شي- پۀ حديثِ پاک کښې دي: د ګاؤنډي پۀ حقونو کښې دي چې کله هغۀ بيمار شي نو د هغۀ تپوس کوه---!! [(3)]

دريم حق: غم خوري

وضاحت: پۀ غم درد کښې شريکېدلو ته غم خوري وائي- [(4)] يعنې ګاؤنډي ته که څۀ مصيبت پيښ شي مثلاً ❁ د هغۀ څوک عزيز وفات شي ❁ څۀ خيز ترينه ورک شي ❁ څۀ نقصان يــې وشي ❁ کاروباريــې بند شي ❁ غرض دا چې هر قِسمه مصيبت پرې راشي، د هغۀ سره اوګه پۀ اوګه ودريدل، تسلي ورکول، د هغۀ د نقصان پوره کولو پوره کوشش کول دا ټوله غم خوري ده-

---

1...اردو لغت، جلد:13، صفحه:604۔

2...بهارِ شريعت، جلد:3، صفحه:803۔

3...شعب الايمان، باب في اکرام الجار، جلد:7، صفحه:83، حديث:9560۔

4...اردو لغت، جلد:13، صفحه:740۔

